مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۲۳/۰۱/۰۸

لنډۍ، د ثبتولو ستونزه

یوسلواته اتیایمه برخه

له مساپرو سره څه وي
د کلي یاد، د وطن غم، پردي کارونه

زما د لرې وطن زویه
د دیدن تخم رالـېږه، چې وېکرمه

د جدایۍ ورځې دې شمارم
ټول تاریخونه مې پر زړه لیکلي دینه

څنګه دې خواره کړم خاونده
چې ګاونډی مې د خولګۍ تمه لرینه

د لنډیو د دې برخې له پاره یو څو نوې لنډۍ:

د چا له زړه نه څوک خبر دي
د تشې خولې خندا خو هر سړی کوینه

شیخه شیخي دې شه میراته
کټ تـه راخېژه کـه پـوره دې وي نفلـونه

مخې ته ځم شاته ښوییږم
واورینه ژونده له سیالۍ دې ویستمه

د غریبۍ څۀ زلمیتوب وي
نه یې یاران وي نه د ژمي مجلسونه

ته بخارۍ ته ګرم ناست یې
زه د کوټـې پر سر خیشته ولاړه یمه

د جدایۍ ورځې دې شمارم
ټول تاریخونه مې پر زړه لیکلي دینه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

پر لیلا هر سړی مئین دئ
بخت د هغو دئ چې لیلا سي پر مئینه

په تلو دې دومره سوم بې وسه
لکه یتیم چې گاونډي ته پاتې سینه

د غریبی پړونی سپک وي
که زه یې دروند پر سروم سپلۍ یې وړینه

چې بد نصیبه نه یم څه یم
په ناویتوب له یاره کونډه پاتې شومه

څنگه دې خواره کړم خاونده
چې گاونډی مې د خولگۍ تمه لرینه

زما د لرې وطن زویه
د دیدن تخم رالېږه، چې وبکرمه

ته په بې غمه زړه ویده شوې
ما ته خو ستا له لاسه نه راځي خوبونه

له پټو زړونو خبر خدایه
لالی زما په حال خبر کړې چې راځینه

چې دې لیدم هغسې نه یم
اوس په لکړه د تنور غاړې ته ځمه

له مساپرو سره څه وي
د کلي یاد، د وطن غم، پردي کارونه

د سپینې خولې سپینې خبرې
رقیب تور مخی پکې لارې جوړوینه

خدایه باران د دیدن وکړې
بیا مې که سترگې چینجي وخوري راضي یمه

په سترگه تو روته ونه کړل
په منجولي سر دې زه نه پوهېدمه

لکه د مار یې منجیله کړم
اشنا په سرو شونډو شپلۍ راته وهینه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ